ولی محمد نورزی ۲۰۱۱/۰۶/۲۸

# د آريانا (بيات) د تلويزيون ځيني خپروني د افغانانو په ګټه نه دي.

لکه څنګه چه تلويزيونی ژورناليزم د يوي پر مخ تللی و سيلي په توګه په نني عصری نړی کي دخبر او پيغام لمړی ځانګه ده، او خلک ددي وسيلي له لاري د ټولو رسنيود خبرتيا د نشر او خپريدو د اړيکو په واسطه د خپل ټولنيز چا پيريال د پيښو او مالو ماتو د موجوديت څخه ځان خبروي. نو د اخلاقی مدنی قانون او مسلکی معيارو ارزونه هم بايد له ياده ونه باسو. ددي لپاره چه ديوی ټولنی د خلکو د فکر او سوچ د کړو وړو څخه ځان خبر کړو، اړينه ده چه له ځانه څخه هم وپوښتو چه زمونږ ټولنه او خلک څه غواړي او ددوي د ليدلو او کتلو د موضوع تصوير او انځور په څه شی کي نغښتي دي. په ټولو نشراتي اړخونو کي بايد د خلکو عمومی نظرونه او د هغي ټولني د ټاکلی چا پيريال د برياوو او نيمګړ تياوو عمومی تګلاري ته د ارزونی او څيړني د پراختيا خوځښت ته په درنه سترګه وکتل شی.
تلويزيونی ژورناليزم په مستقيمه توګه د ټولني او خلکو تير او راتلونکی، رواني، کلتوری، ټولنيزي، تاريخي، او هنری اړخيزي چاري په ښکاره او ژوندي بڼه نندارچيانو او ليدونکو ته داسي تمثيلوي چه د تير او راتلونکی ژوند ټولي ښيګڼی پکښي نغښتي وي او د يوی ټولني د ډيری برخو په استازيتوب باندی ولاړی وي.
تلويزيون خپل انځور په ښکاره ډول سره د خلکو فکری ذهنيت اوعينی پيښنه په خپله هنداره کي بيانوي او ليدونکي ته داسی پيغام ورکوي چه ګواکي دهغی پيښی نسبی او واقيعی بڼه په ريښتيا سره هم منځ ته راغلی وي. په همدی وجه تلويزيونی ژورناليرم د تلويزيون په هنداره کي دهنری ځلا پوهوالي د خيال او حقيقت انځور د ارزونی او قضاوت پر ليکه وليدونکی ته دغور او څيړني چانس ورکوی چه په دي هکله د ږغ او څيری د اوريدلو او کتلو ننداره د تلويزيون پر پرده د انځورونو، علمي فرضيو، خيالی سوچونو، هنری ښکلاوو، عينی او ذهني انديشو، نسبی واقعيتونو، او د خلکو اخلاقی او انسانی ارزشتونه د پردي پر مخ په ژوندی بڼه خپروی، او د انسانی مدني ټولني د ودی او پرمخ تيا يی شکل او بڼه يي د ټاکلی پړاو څخه عينی تصوير او انځور اخلي او د وخت او زمان د ازمون په تله کی د تيرو اغيزمنو بر ياوو او نا خوالوليد لوري په ځغلنده توګه بيانوي او په دی هکله پلټنه اوڅيړنه يی کوي. د تلويزيون د پروګرام جوړونکی بايد د خلکو او ټولنی دودويز، دينی او مذهبی پرنسيپونه، ټو لنيزي عنعنوی کلتوری چاری او د موجده ټولنی د ټولو قومونو او توکمونو انډول په نظر کي ونيسي او په دی لار کي پوره ما لومات او آګا هی ولري. د خلکو مدنی او انسانی حقوقو ته، د انسانی چا پيريال د عزت، هويت، اخلاقو، او حرمت چوکاټ ته درناوي وکړي او د هغی ټولني او خلکود حقيقی عدالت او انصاف په اړوند دعمل په ډګرکي ځانګړی اوچت ګامونه پورته کړي اوډيره پاملرنه ورته وکړي. د تلويزيوني پروګرام جوړونکي بايد هڅه وکړي چه په خاصه اخلاص مندی سره د خپلی مسلکي پوهی په وړتيا سره د خپلی دندي او مسلک پر بنسټ جوخت خپل پروګرام د ليدونکو او اوريدونکو لپاره د هغوي دعلاقی او انتخاب سره سم برابر کړي او په زړه پوری مالومات پر ليکه او د خپريدولپاره يی چمتو کړي.
د بی ځايه تير وتني، دروغي تهمتونو، اوغير حقيقی سندونو څخه دی ډډه وکړاي شی.
د تلويزيونی پروګرام جوړونکی « دايرکتر» بايد هرومرو دخپلي ټولنی د اکثريت او اقليت بيلانس او انډول او د پروګرام د کميت او کيفيت اصليت ته ښه ځير شي ولی د ډيري څيړني اوغور وروسته دی هغه ښه وڅيړی او بيايی د خپرولوو ځانګي ته وسپاري.

## د نيوکی اصلی موضوع او مطلب:

څو کاله کيږي چه د آريانا (بيات) محلي تلويزيون سر بيره پر دي چه په افغانستان کي خپل ۲۴ ساعته خپروني لري ولی د اروپا او امريکا او دنړي په نورو قارو کی يی هم خپلی خپروني جاری ساتلی دي. د مساپرو افغانانو کورني او په بهر کي ميشت افغانان ددی تلويزيون پروګرامونه په ژوندی بڼه ګوري او خوند ځيني اخلي. چه ددي کار اخلاقی ارزونه د ټولو افغانانو لپاره د يوی ښي بيلګي نمونه ګڼلای شو، او د افغانانو په کلتوري او هنري چوپړ کي ددي ژوندی خبری وسيلي خپرول د پير زويني او مننني اغيزناکه وجه ګڼل کيږي، او ټول افغانان دي ته د ستاينې او قدر په ستر ګه ګوري.
ولی افسوس ددي تلويزيون د پروګرامونو د انتخاب د جوړښت کچه ډيره ټيټه او کمزوری ده. داسی مالوميږي چه ددي تلويزيون په روانو چاروکي مسلکی د تجربی وړ کسان يا بيخی نشته او که وي هم ددی تلويزيون د پروګرام په نشر او خپريدو کي آزاد نظر نلري او يا هيڅ کوم رول نشی لوبولای. د آريا تلويزيون د ډيرو پروګرامونو څخه يواځی د خبرونو برخه لږ څه د ليدلو وړ ده ، او نوری زياتره برخی يی د کتلو ارزښت نلري. داسي ښکاری چه ددي تلويزيون په چوکاټ کي د کوڅي او بازاز څخه هر ډول همکاران استازی راټول شوي دي او د ښي تنخواه (معاش) له کبله خپل هغه بی خونده طرحه او ايديا چه د تلويزيونی ژورناليزم په چوکاټ کی هيڅ ځای نلری د نشر او خپريدو


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزی بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

ځانګي ته يی حواله کوي. د داسي غير مسلکی پروګرامونو خپرول د خلکو په فکري او عيني ذهنيتونو کی لوی خطر او ناوړه اغيزه اچوي. چه دا په خپله د تلويزيون د مشرتابه او د پرګرامونو د ځانګړي کميسيون د پريکړو منفی لامل ګڼل کيږي. که چيری دغه حالت نورهم اوږدی شي نو هرو مرو ددي تلويزيون د پروګرام په راتلونکی نشراتو او خپرونوکي د پام وړ نا خوالي او کمزور تياوی را منځته کيداي شي.

د آريانا تلويزيون دپرګرامونو نيمګړ تياوی په لاندی ډول سره ترغور لاندی نيولای شو:

اول: ددی تلويزيون د هندی سريالو برخه دافغاني ټولني په تاريخی او هنری چوکاټ کي د جدی خطر سره مخا مخ ده. دحنا او ويدا سريال د ټولو ناوړو دودونه سره سره زمونږ د افغانی ټولنی دتير او راتلونکي کلتور ، مذهب اوعقيدي پر ضد دي. دا ځکه چه مونږ د اسلامی نړي د مسلمانی عقيدی او مذهب پيروی کوو. زمونږ په عقيده کی چه کوم سړي مرشی هغه بيا هيڅ کله په دغه ژوندي نړي کی بير ته نه راځی او نه ژوندی کيږي او د آخرت بلی نړي ته چه تر اوسه ددي نړی ژونديوخلکو نه ده ليدلی رحلت کوی، او دخپلو کړو وړو ځواب وايی . ولی په دی ناوړو هندي سر يالو کی په افسانوی شکل سره دغه دوي مينځ جوړی اول مري او بير ته نړی ته را ځی اوخپل ژوند پيلوي.نه پوهيږم چه ددی سريال مثبته ارزښتناکه ګټه او انګيزه د بير ته ژوندی کولورول زمونږ دافغانی او اسلامی ټولنی په درشل کی څه شی دي اوزمونږ خلکو ته کوم پيغام ورکوی او همدارنګه د سريال دداستان ګټی چاته رسيږي. چه دوزخ او جنت دواړه پدي نړی کی وينی اوخپل دوهم ژوند بيا له سره پيلوي. او يوهندی فلم بيا څوځله خپريږی.

دوهم: که چيری د تلويزيون ليدونکي ددی تلويزيونی کانال پروګرامونو ته ښه ځيرشي نو کله کله ددي تلويزيون د تخنيکي همکارانو او دايريکترانو خپل جوړ شوي پروګرامونه داسی ترتيب کړی وي چه د نړي په هيڅ تلويزيون کي د ليدو سارى نه لری. د بيلګی په توګه :څو ورځی مخکي می د هندي بيدايی نومي سريال نيم ساعته سريال ليدئ چه دهغی جملی نه ۱۵ دقيقی اعلانونه او ۱۵ دقيقی د سريال برخه په درو برخو ويشل شويده. دخنداوړ خبره خولا داده چه د سريال يوه برخه پنځه دقيقی په يوه ځل سريال ښودل کيږي بيا داعلاناتو لړي اته دقيقی دوام لري ، وروسته بيا يوه دقيقه سريال وښودل شي او بيا بيرته اعلانونه د پردی پرمخ خپاره شي. چه دا ډول پروګرام هم د نړي په هيڅ تلويزيون کی نه دی خپورشوی او نه به هم چا ليدلی وي . ولی د آريانا تلويزيون دا کار کوي.

دريم: لکه څرنګه چه د افغانستان دوي ملی ژبي پښتو او دری ده. ولی د آريانا تلويزيون د هندی سريال پنځه سوه برخيزه يوځل په دری او بيا همدغه برخي يو ځل بيا په پښتو ژبه خپروي او که سريال په پښتو ژبه خپور شوی وي نو بيا يی په دری ژبه خپروي. چه دا کار زمونږ د افغانی ټولني دليدونکو د ستوماني وړ ګرځی. افغانانو په کور او بهر کي ددغه سريالو ټولي برخي په دری ژبه کتلی دي او ۹۸٪ سلنه خلک دسريال ليدو ته په بله کومه ملی ژبه کومه اړ تياو نلری. که چيری بيا هم د پښتو او دری ژبی د يوشان او ورتوالی انډول په نظر کي نيول کيږي، نواړينه ده چه د آريانا په ټولو تلويزيونی پروګرامونو کي دي ددی دوو ملی ژبو د يو شان په خپرونو کی جدی پا ملرنه وشی. ولی اوس داسی ما لوميږي چه په دری ژبه د خپرونو کچه ۸۰ ٪ سلنه ته رسيدلی ده او پښتو ته يوا ځی ۱۵ ٪ سلنه د نشراتو او خپرولو چانس ور کول شوی دي. په ازبکی ژبه ددي تلويزيون نشرات يو بل دمور او ميری ښکاره چلند دنورو محلی ژبو په قطار کی قرار لری. که چيری ريښتيا هم د ژبو انډول ته په درنه سترګه کتل کيږی نو بيا د پښيی، نورستاني، بلوڅی او نورو ژبو حق چير ته دی. او ولی يوازځی ازبکی ژبی ته پاملرنه شوی ده. يو بام دوی هوايی همدی ته وايي. چه يو پاچا او بل ګدا وي.

څلورم: بله نيوکه داده، کله چه کوم سندر غاړي (هنرمند) دخپل کنسرت لپاره دآريانا تلويزيون ته دکنسرت د يو ټاکلی نيټی اعلان ور کړی. د بيلګی په توګه پلانی هنرمند د ۲۰۱۱ کال د جون په ۱۲ نيټه د امسترتردام په ښارکي کنسرت ورکوي. دا اعلان دتلويزيون له لاری په پوره متن سره د تلويزيون پر پرده تير شی او خلک خبرکړي. ولی عجا يبه خو لا داده چه نومړی هنرمند خپل کنسرت په ټاکلی نيټه ورکړي او بيا کورته ولاړشی. ولی د آريا نا تلويزيون دغه اعلان دجون د مياشتی په ۱۳-۱۴-۱۵- حتی د شلمی نيټی پوری او دهغه نه وروسته هم همغه پخواني اعلان دجون ۱۲ نيټي چه لا وخته کنسرت ورکول شوی دی په لوړ آواز سره اعلانوی او دهيڅ همکار او دايريکتر ورته فکر اوپام نشته. ددی پروسی تکرار په نورو اعلاناتو کی هم له ورايه ښکاري.

پنځم: که مونږ ددی تلويزيون اعلانونه ته ځيرشو او يا څوک ددی تلويزيون کانال پروګرامونه په پرله پسی توګه ګوري نو داعلاناتو په وخت کي د تلويزيون ږغ نا ببره دومره لوړ او هسک شی، چه په کو ټه کي ناست کسان خپلي خبری هم نشی او ريدلي او بيا سړی مجبوره شی چه ريموټ کنترول را واخلی او ږغ يی کم کړي. او بيا چه پروګرام شروع شي نو بيا اړينه ده چه آواز بير ته لوړ کړي. لنډه داچه ريموټ کنترول بايد هميشه ستا څنګ ته پروت وي. او د تلويزيون دهر پرو ګرام د ږغ تناسب او بيلانس بايد ستا دريموت کنترول په کمک سره سرته ورسيږي.



افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ددی ټولو نمګړتیا سره سره بیاهم دا تلویزیون توانیدلی دی چه ځیني په زړه پوری خپرونی خپری کړي او خلکو ته یی ور ډالي کړي. که چیری ددي د تلویزیون د مشر تابه په لیکه کي ژور بدلون راشی او د برنامو جوړونکی د خپلی مسلکی زده کړي پر اساس خپلو خپرونو ته ښه متوجه شی بیله شکه چه دا تلویزیون به خپله کړنلاره په ډیره ښه توګه سره سرته ورسوي. او پروګرامونه به یی دهرچا لپار په زړه پوری وي. او که بیاهم د بی تجربی همکارانو د نه پاملرني کچه لوړه شی او په دی لاره کي ځانګړي او چټ ګامونه وانه اخلي نو بیرته هغه دچا خبره همدغه آش او همدغه کاسه.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ